


دکتور حبیب الله تړے

## پښتانهٔ په غزني کښې

په تحریري اسنادو کښې د غزني په سیمه کښې هم له بېخي پخوا نه د پښتنو یادونې راغلې دي. عبدالحئ بن ضحاک ګردېزي چې تاریخ ګردېزي ئې د ٤٤٢ او ٤٤٣ هجري په حدودو کښې لیکلے دے، د غزني په غرونو کښې پښتانهٔ مېشته ګڼي او یو ځائے د مسعود بن محمود غزنوي د عصر د پېښو د بیان په ضمن کښې داسې لیکي:

«او څهٔ رنګه چې امیر هپیانو [٣١] ته ورسېد، هلته دېره شو... او امیر ایزدیار ئې د غزني غرو ته، چې عاصیان افغانان پکښې اوسېدل، ولېږهٔ او (ورته) ئې ووئیل هغه ولایت وساته، (پام کوه) چې څهٔ نا ارامي پکښې پېښه نهٔ شي. » [٣٢]

تواریخ حافظ رحمت خاني هم په غزني کښې له پینځلسمې میلادي پېړۍ نه پخوا پښتانهٔ مېشته ګڼي او لیکي چې «یوسفزي په ګاړه په نشکي او غوریه خېل خصوصاً خلیل په ترنک، په مقر او په قره باغ پراتهٔ وو. » [٣٣]

د هم دې زمانې د پېښو په ارتباط بیا لیکي چې د «شېخ میر داد افغان خلیل متې زي نیکهٔ... له یو تعداد مریدانو سره چې شمېر ئې تخمین درې سوو او پنځو سوو تنو ته رسېدهٔ... له ترنک او قلات او قندهار نه د لاشوړې سیمې ته راغلل.» [٣٤]

تواریخ یو بل ځائے وائي چې «په دې وخت کښې داؤدزي او ځینې مومند چې له مقر او قره باغ نه راغلي وو، لا هم د کابل په نواحي کښې مېشته وو او ځینې مومند لا هم په مقر او قره باغ کښې وو.» [٣٥]

حافظ رحمت خان هم په خلاصة الانصاب کښې چې په کال ١١٨٤ هجري کښې لیکل شوے دے لیکي چې «افغانان په هندوستان د سلطان محمود غزنوي د یرغلونو تر وخته د قندهار او غزني په سیمو کښې مېشته وو.» [٣٦] په سیرت جلال الدین منکبرني کښې چې د اومې هجري پېړۍ په اوله نیمایۍ کښې لیکل شوے دے. د خوارزم شاهیانو



او چنګېزيانو د مقابلې او جګړو د بيان په ضمن کښې په غزني کښې د افغانانو يو لوئې مشر د صاحب افغانيان په نامه ياد شوے او داسې راغلے دے. کله چې جلال الدين د خوارزم شاه مشر زوے په کال ۶۱۸ هجري کښې غزني ته ورسېد هلته.

صاحب افغانيان مظفر ملک او حسن قسراق چې دېرش زره سوارۀ ورسره وو له هغۀ سره يو ځائے شو.)) (۳۷)



مولانا عبدالرازق سمرقندي په مطلع السعدين کښې چې له کال ۸۷۲ نه تر کال ۸۷۶ هجري پورې ليکل شوے دے ليکي: ((د غزني د ولايت او ښار لويان..د عالم پناه درګاه ته راغلل او د برمل د خېل خاني او خرشوانې افغانان مشرف شول.)) (۳۸)

د غزنويانو د عصر لوے مؤرخ ابو الفضل بيهقي (۳۸۵-۴۷۹) په مکرر ډول په غزني کښې د افغان شال په نامه يو ځائے يادوي. يو ځائے ليکي چې ((...له خپلوانو، لويانو او مشرانو سره يو ځائے افغان شال ته ورننوت او د امير عادل سبکتګين په مزار پلے شو.)) (۳۹) بيا ليکي چې ((امير بيا محمودي مانۍ افغان شال ته راغے.)) (۴۰) بيا ليکي چې ((...دينارونه او درهمونه او هر څۀ ئې په افغان شال کښې د رسوله په مېدان او بازارونو کښې وشيندل....)) (۴۱) بيا ليکي چې: ((...دارالملک ته راورسېد او په افغان شال کښې په محمودي مانۍ کښې د مبارکۍ دپاره پلے شو.)) (۴۲) يو ځل بيا هم ليکي چې: ((... د افغان شال خوا ته لاړ شي...)) (۴۳) د بيهقي له دې تذکراتو نه ښکاري چې د غزنويانو د دارالخلافې په زړۀ کښې يو ځائے افغانانو ته منسوب دے او د سلطان محمود پلار هم په هم دې ځائے کښې ښخ دے. د غزنويانو د دار الخلافې او دربار سره د پښتنو د ارتباط په باره کښې په ځينو نورو معتبرو آثارو کښې هم يو څۀ مطالب راغلي دي.

مبارک شاه فخر مدبر په آداب الحرب کښې چې له کال ۶۲۶ نه تر ۶۳۳ هجري پورې ئې ليکلے دے وائي چې اديرا نومې افغان چې د پېښور په شاوخوا کښې د يوې سيمې کوتوال ؤ، غزني ته د سلطان محمود دربار ته ورغے. اسلام ئې ومانۀ او ورسره ملګرے شو. (۴۴)

خواجه نعمت الله هروي د سلطان محمود او سلطان مسعود په دربارونو کښې د پښتنو په باره کښې يو روايت ثبت کړے چې په ډېرو نورو آثارو کښې هم راغلے دے. دې ليکي:

((د افغانانو نهۀ تنه مشران د سلطان محمود خدمت ته ورغلل. د دې نهو تنو نومونه په تاريخونو کښې داسې راغلي دي. ملک خانوے او ملک عامون او ملک داؤد او ملک يحيٰي او ملک احمد او ملک محمود او ملک محمد او ملک عارف او ملک غازي.. سلطان (دا مشران) ډېر وغښول... له

ځان سره ئې وخوځول، د سومنات او هندوستان غزا ته روان شو... هر وخت به چې سلطان ته مشکل ورپېښ شو نو دا ملکان به ئې د هغو له خپلو سپايانو او ډلې سره پرې وګمارل او دغه مشکل به حق تعالٰې حل کړو..... په لږ وخت کښې (دا ملکان) د دولت ارکان... او د سلطنت په کارخانه کښې د دخل خاوندان او د اعتماد وړ شول. کله چې سلطان محمود د کال ۴۲۱ د ربيع الاخر په اووم د پنجشنبې په ورځ مړ شو، د هغهٔ زامنو سلطان محمد او سلطان مسعود هم داسې سلوک ورسره کاوهٔ.)) (۴۵)



نواب محبت خان په رياض المحبت (تاليف ۱۸۰۶) کښې وائي چې د سلطان محمود او پښتنو ترمنځ کورني روابط هم موجود وو. دې ليکي: ((کله چې دغه واکدار (سبکتګين) مړ شو زوي ئې، اسماعيل چې مور ئې اصلاً وينځه وه، د پلار ځائے ونيو. مګر محمود چې مور ئې د زابل د يوهٔ مشر لُور وه، له دې خبرې سره مخالفه وه چې (اسماعيل) دې د پلار ځائے ونيسي او جګړه ئې ورسره پېل کړه. افغانان چې د (زابل) له دې مشر سره تړلي وو نو د هغهٔ له نمسي يا په بل عبارت د لُور د زوي يعني محمود سره ملګري شول. محمود اسماعيل ته ماتې ورکړه او په يوه قلا کښې ئې بندي کړو. محمود د دې مرستې په بدل کښې خپله لُور د افغانانو د دې قبيلې مشر شاهو ته ورکړه. له دې لُور نه ئې درې زامن پېدا شول او هغه سالار، مسعود او غازي وو.)) (۴۶)

لکه څنګه چې لږ وړاندې ووئيل شو ځينې غزنوي سلطانانو په بده ورځ کښې افغانانو ته پناه وړې ده او لکه څنګه چې په وروستو فصلونو کښې په تفصيل خبرې پرې شوې دي يو شمېر آثار د غزنوي واکدارانو په فوځ کښې په زرګونو افغانان شامل ګڼي او د سلطان محمود ځينې سترې فتحې هم د هم دوي د سر برکت ګڼي.

بايد ووئيل شي چې په بابر نامه کښې هم د غزني او شاوخوا سيمو د پښتنو په باره کښې ډېر څهٔ راغلي او مونږ د پښتنو په ارتباط د بابر نامې له نورو مطالبو سره يو ځائے په اووم فصل کښې راوړي دي. يواځينۍ خبره چې غواړو دلته يو څهٔ پرې ووايو هغه دا ده چې د مقر او وازې خوا په سيمو کښې د بابر ډېرې خبرې د غلځو پښتنو په باره کښې دي او ځينو شرقي او غربي څېړونکو او مؤلفينو بيا هم دا غلځيان له هغو ترکانو سره ګډ کړي چې په زړو متونو کښې د خلج يا خلخ په نامه

یــاد شــوي دي. راځــئ وګــورو چــې د دوي دا ادعــا
ثومره په ځائے ده؟